# النجم

**مکی سورة دی ۶۲ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ١

**قسم په راختونکو او پریوتونکو ستورو.**

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمۡ وَمَا غَوَىٰ ٢

**چې ستاسو ملګری( محمد صلی الله علیه وسلم) هیڅکله له مستقیمې لارې نه دی اوښتی، او( په ایمان او اعتقاد کې هم) نه دی خطا شوی( او د آسمان د ځلیدونکی ستوری په شان د الله تعالی د نازل شویو احکامو او هدایاتو په مستقیم مسیر روان دی).**

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ٣

**او هیڅکله هم له خپل ځانه حکم نه صادروی.**

إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ٤

**(په دینی چارو کې) د هغه ټول احکام د الهی وحې په بنسټ ولاړ دی.**

عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ ٥

**یوه پیاوړې پرښته( جبرئیل علیه السلام) هغه ته تعلیم ورکوی.**

ذُو مِرَّةٖ فَٱسۡتَوَىٰ ٦

**هغه چې حیرانوونکی درایت او قوت لری،(او د خپلو ورسپارل شویو وظایفو او مکلفیتونو په سرته رسولو)کاملاً مسلط دی.**

وَهُوَ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ٧

**( جبرئیل پخپل اصلی صورت او شکل) له ختیځ افق نه( محمد صلی الله علیه وسلم ته) ورڅرګند شو.**

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ٨

بیا ډېر زیات ورنږدې شو.

فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ﴿٩﴾

تر دې چې ( له پیغمبر سره یې فاصله) د دوو لیندیو( دوو لاسونو) څخه هم کمه شوه.

فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ﴿١٠﴾

بیا( الله تعالی) خپل بنده ته څنګه چې لازمه وه( د جبرئیل په ژبه) وحي نازله کړه.

مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ﴿١١﴾

(پیغمبر صلی الله علیه وسلم پخپلو سترګو جبرئیل ولید) او زړه یې هم ورته د دغې لیدنی( د جبرئیل د شکل او قیافې) په باب دروغ ونه ویل( بلکه ډاډ یې ورکړ چې همدا پخپله جبرئیل دی).

أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾

په( حقیقت ولې سترګې پټوی، ښه پوهیږئ چې وحي استوونکی الله تعالی او راوړونکی یې د پوهې، قوت او اعتماد وړ پرښته جبرئیل دی خو بیا هم له پیغمبر سره) د هغه د مشاهداتو په باب جنجال او ناندری جوړوئ.

وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾

پیغمبر خو بل ځل هم( د معراج په شپه جبرئیل د هغه په ملکوتی شکل) لیدلی دی.

عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿١٤﴾

( د آسمان)په سدرة المنتهی کې.

عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴿١٥﴾

چې په څنګ کې یې( د متقیانو مقام) جنت المأوی دی.

إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾

هغه وخت چې( د الهی نور تجلیاتو، پرښتو او بې ساري ښکلا) سدره احاطه کړې وه.

مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾

( د پیغمبر) سترګو( بل کوم لور ته)انحراف او سرکشی نه کوله (بلکه هماغه یوه لور ته متوجه وې چې باید په دقت یې لیدلی وی،او څه چې د پیغمبر سترګو لیدل کاملاً حقیقت او واقعیت و).

لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴿١٨﴾

په رښتيا چې هلته يې د خپل رب  يو شمير لويې نښې ( او د کائناتو عجايب او غرايب لکه سدرة المنتهى، بيت المعمور،جنت، دوزخ او د جبرئيل اصلي قيافه ) وليدل.( د پيغمبر عليه السلام د معراج دغه ټول مشاهدات په ويښه او د کاملې بيدارۍ په حال کې وو، نه کوم خوب او خيال).

أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾

( دغه وې د الله تعالى د قدرت ځينې نښانې چې خپل آخرنی پيغمبر ته يې وروښودې،( نو ای مشرکانو! آيا د خپلو بتانو) لات او عزى حال ته مو کتلی( او پخپله فاسده عقيده مو فکر کړی؟)

وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلْأُخْرَىٰٓ ﴿٢٠﴾

او هغه دريم بت منات( چې  دريواړو  ته د الله تعالى د لوڼو په حيث عبادتونه کوی).

أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ ﴿٢١﴾

آيا ستاسو په برخه به زامن وی او د الله تعالى په برخه به لوڼه وی؟

تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰٓ ﴿٢٢﴾

دا خو يو ظالمانه تقسيم دی.

إِنْ هِىَ إِلَّآ أَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهْوَى ٱلْأَنفُسُ ۖ وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٢٣﴾

( دغه ستاسو بتان (د ځو خود ساخته) نومونو نه غير، چې تاسو او ستاسو پلرونو او نيکونو، ورته غوره کړی، نور هيڅ ارزښت نه لری. الله تعالى د دغو نومونو (د حقانيت لپاره) هيڅ دليل نه دی نازل کړی، بلکه دوی يوازې د خپلو ګومانونو او اټکلونو او نفسی خواهشاتو پيروی کوی، په داسې حال کې چې دوی ته يې د رب له لوری هدايت راغلی( خو دوی ترې سترګې پټوی).

أَمْ لِلْإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾

آيا( د دغو بتانو په پرستش سره د کافر) انسان ټولې ارزوګانې پوره کيږی؟

فَلِلَّهِ ٱلْءَاخِرَةُ وَٱلْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾

آخرت او دنيا يوازې د الله تعالى په مالکيت او سلطنت کې شامل دی.

۞ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ
أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ﴿٢٦﴾

او په آسمانونو کې د موجودو بې شمیره پرښتو شفاعت یوازې د هغو کسانو لپاره ګټه لري، چې الله تعالی ترې راضي وي او د شفاعت اجازه ورته منظور شوی وي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ لَيُسَمُّونَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ تَسۡمِيَةَ ٱلۡأُنثَىٰ ﴿٢٧﴾

هغه کسان چې په آخرت ایمان نه لري، پرښتې په ښځینه نومونو یادوي.

وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّۖ وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ
شَيۡـٔٗا ﴿٢٨﴾

او د خپلې ادعا د ثبوت لپاره هیڅ علمي دلیل او سند نه لري،بس په اټکل او ګومان پسې روان دي، خو ګومان هیڅکله هم د حقیقت په کرسۍ کښیناستی نشي.

فَأَعۡرِضۡ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكۡرِنَا وَلَمۡ يُرِدۡ إِلَّا ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٢٩﴾

نو( ای پیغمبره!) له هغو کسانو مخ واړوه چې زمونږ له یادو غافل او له دنیوي مزو چرچو نه غیر بل څه نه پیژني.

ذَٰلِكَ مَبۡلَغُهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ
بِمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ﴿٣٠﴾

د دوی پوهه او علم یوازې( د دنیوي ارزوګانو) په محور څرخي. بیشکه چې ستا رب هغه کسان ډېر ښه پیژني چې له الهي مسیر نه منحرف دي او هغه کسان هم ورته ښه معلوم دي چې د هدایت په لاره روان دي.

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ
وَيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ بِٱلۡحُسۡنَى ﴿٣١﴾

**او د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات یوازې د الله تعالی د مالکیت او فرمان لاندې دی، تر څو ګناهکارانو ته د هغوی د ګناهونو سزا ورکړی شی، او نیک عمله خلک هم د خپلو نیکو کړنو په مقابل کې غوره مکافات ترلاسه کړی.**

ٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَۚ إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ هُوَ أَعۡلَمُ بِكُمۡ إِذۡ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَإِذۡ أَنتُمۡ أَجِنَّةٞ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡۖ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ﴿٣٢﴾

**( نیکان)هغه کسان دی چې له لویو ګناهونو څخه یې ځانونه پاک ساتلی، او کوچنی ګناهونه( چې سهواً ورڅخه صادر شوی او تکرار کړی یې نه وی او توبه یې هم ترې ویستلی وی) ورته ببښل کیږی، بیشکه چې ستا د رب ببښنه ډیره پراخه ده. الله تعالی تاسو لا له هغه وخته ډیر ښه پیژنی، چې له ځمکې یې پیدا کړئ او بیا چې کله د میندو په ارحامو کې د جنین په ډول پراته واست، نو د خپلې پاکئ دعوه مه کوئ، الله تعالی ته پرهیزګاران پخپله ډیر ښه معلوم دی.**

أَفَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾

**( ای پیغمبره!) هغه سړی( ولید بن مغیره) دې ولید چې( په حق دین ایمان راوړلو ته یې اراده کړې وه) خو بیرته منصرف شو( ځکه یو مشرک دوست یې ورته وویل چې د پلار نیکه له دین نه مه ګرځه که د آخرت له عذابه ویریږې ماته پیسې راکړه ټول عذاب دې زه په غاړه اخلم).**

وَأَعۡطَىٰ قَلِيلٗا وَأَكۡدَىٰٓ ﴿٣٤﴾

**او(د ټاکلی رقم) یوه برخه( پیسې یې خپل مشرک ملګری ته) ورکړې خو پاتې (پیسې یې) ور نه کړې.**

أَعِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡغَيۡبِ فَهُوَ يَرَىٰٓ ﴿٣٥﴾

**آیا د غیب علم له ده سره دی او وینی (چې د کفر او جرایمو بار به یې په قیامت کې بل څوک په اوږو واخلی؟ او ده ته به هیڅ سزا ور نه کړی شی).**

أَمۡ لَمۡ يُنَبَّأۡ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾

آیا په (هغو نصیحتونو او موعظو) خبر نه دی چې د موسی په صحیفو کې راغلی دی؟

وَإِبۡرَٰهِيمَ ٱلَّذِي وَفَّىٰٓ ﴿٣٧﴾

او (په عهد او پیمان) د ټینګ ولاړ( او الهی احکامو ته د تابع شخصیت) ابراهیم په صحیفو کی یې یادونه شوې وه.

أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ ﴿٣٨﴾

چې هیڅوک د بل د ګناه پیټی په اوږو نشی اخستی.

وَأَن لَّيۡسَ لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾

او( بل دا چې)هر انسان ته به یوازې د هغه د خپلو هڅو او کوښش بدله ورکړی کیږی( او هیڅوک یې نیکی او بدی نشی اخستی) .

وَأَنَّ سَعۡيَهُۥ سَوۡفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾

او دا چې (هرومرو به یې) کوښښونه او اعمال ورته مخې ته کیښودل شی.

ثُمَّ يُجۡزَىٰهُ ٱلۡجَزَآءَ ٱلۡأَوۡفَىٰ ﴿٤١﴾

بیا به یې (د هڅو او کوښښ) پوره بدله او ثمره ورته ورکړی شی.

وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلۡمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾

او دا چې ټول مخلوقات او د هغوی چارې او اعمال(علوم او افکار) بالاخره ستا د رب حضور ته ورګرځی.

وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴿٤٣﴾

( د شر او خیر خالق) یوازې الله تعالی دی (چې د ژوند متضاد کیفیتونه لکه) خندول او ژړول( غم او خوشالی) یې په واک کې دی.

وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحۡيَا ﴿٤٤﴾

او مرګ او ژوند هم د هغه په اختیار کې دی.

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾

او همدا ذات دی چې د نر او ښځې جوړې یې پیدا کړی دی.

مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ ﴿٤٦﴾

له نطفې( څاڅکی اوبو) نه چې( په رحم کې) تویږي.

وَأَنَّ عَلَيۡهِ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰ ﴿٤٧﴾

او بیا راژوندی کیدل هم د هغه په عهده دی.

وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ وَأَقۡنَىٰ ﴿٤٨﴾

او شتمنی او نیستمنی هم د هغه په واک کې دی( چاته چې یې اراده وشی ثروت او سرمایه ورکوی او چې کله اراده وکړی نو د دنیا ډیر ځواکمن او سرکش قوتونه هم خوار او ذلیل کړی) .

وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾

او همدا( الله تعالی) رب د شعری دی( هغه ستوری چې عربانو به یې عبادت کاوه).

وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾

او( الله تعالی) دی چې لومړنی عادیان یې تباه کړل.

وَثَمُودَاْ فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾

او ثمودیان یې (داسې وځپل) چې نوغی یې پاتې نه شو.

وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ هُمۡ أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ ﴿٥٢﴾

او له هغو نه وړاندې یې د نوح قوم( هلاک کړی و) ځکه چې ظالمان او باغیان وو.

وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ﴿٥٣﴾

او د ( لوط د قوم) ښارونه یې هم په بل مخ واړول.

فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾

( چې د تیږو د باران الهی عذاب) ترې په کامله توګه راچاپیره شو.

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾

نو( ای کافر انسانه!) د خپل رب  له کوم نعمت نه انکار کوې( او برحق پیغمبر ته یې ولې د درواغجن خطاب کوې)؟

هَٰذَا نَذِيرٞ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلۡأُولَىٰٓ ﴿٥٦﴾

**دا پيغمبر هم د تيرو تنبيه ورکوونکو په شان يو تنبيه ورکوونکی دی(چې مجرمان د ناوړو اعمالو له انجام نه خبروی).**

أَزِفَتِ ٱلۡأٓزِفَةُ ﴿٥٧﴾

**قيامت رانږدې شو.**

لَيۡسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾

**د راتگ مخه يې له الله تعالى نه غير، هيڅوک نشی نيولی.**

أَفَمِنۡ هَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ تَعۡجَبُونَ ﴿٥٩﴾

**آيا دې خبرې ته حيران او په تعجب کې غورځيدلی ياست؟**

وَتَضۡحَكُونَ وَلَا تَبۡكُونَ ﴿٦٠﴾

**او خندا گانې( او مسخرې) مو راختستی، او له ويرې يې نه ژاړی؟**

وَأَنتُمۡ سَٰمِدُونَ ﴿٦١﴾

**او لا هم په سرکشی او د غفلت په خوښيو او مزو چرچو کې ډوب ياست.**

فَٱسۡجُدُواْ لِلَّهِ وَٱعۡبُدُواْ ۩ ﴿٦٢﴾

**( بهتره درته دا ده چې راشی د قيامت له سختيو او کړاوونو نه د خلاصون لپاره) الله تعالى ته په سجده پريوزی او عبادت يې وکړی.**

**« تمت سورة النجم بفضل الله و رحمته»**

**===================**